مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۲مه | د ۲۰۲۱ د اګسټ دریمه | ۷۵۶مه ګڼه

# د سولې نامعلوم برخلیک او جګړې ته چمتووالی؛

## ولسمشرغني: طالبان سولې ته جدي اراده نه لري، د جګړې په ډګر کې به یې مات کړو



۳

### خلک د جګړې دې دوام هرکلی نه کوي

۲ مخ

### د کوویډ-۱۹ د ریښي او خپرېدو په اړه د امریکا شکونه

۲ مخ

### یاري په جواري او کلي په زور نه کیږي

۳ مخ

## ځېره

۴ مخ



### ممنون مقصودي

ممنون مقصودي د افغانستان د سینما تر ټولو وتلې څېره ده، چې نه یوازې د هیواد دننه یې د تمثیل په برخه کې کار کړی دی، بلکې پر لسګونو بهرنیو سټیجونو هم لوبېدلی دی.

## کرنې ریاست: په سرپل کې د ٣٦ شنوخونو رغنیزې چارې پیل شوې



د سرپل د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي چې په دغه ولایت کې یې د ٣٦ شنوخونو رغنیزې چارې پیل کړې دي. د دوی په خبره، دغه شنې خونې، چې هر یوه یې اته په ۲۰ مترو کې دي، د سرپل ولایت په مرکز او ولسوالیو کې جوړېږي.

د کرنې ریاست چارواکو په وینا، یادې شنې خونې، چې د رغولو ټولیز لګښت یې ٢٥ میلیونه او ۹۰۰ افغانۍ ده، له تشویقي بودیجې څخه د سبو کرکېلې دودولو په پار جوړېږي. د دوی په خبره، د دوی په خبره، د دغو شنو خونو په جوړېدو سره به د یاد ولایت د سبو او سبزیجاتو په تولید کې د پام وړ زیاتوالی راشي.


د یادونې ده چې په دغه ولایت کې تر دې وړاندې هم د کرنې ریاست او همکارو موسسو له خوا د سبو کرکېلې تولید په پار ١٦۴ شنې خونې جوړې شوې دي.

## اروپايي ټولنه: د ډیپلوماتیکو مراجعو د فعالیت دوام د افغانانو په ګټه دی

په کابل کې د اروپايي ټولنې سفیر او د استازولۍ مشر د ډیپلوماتیکو مرکزونو خوندیتوب او فعالیت له افغانانو سره د مرستو د دوام په خاطر مهم او اړین بللی دی. سفیر وون برنټ په یو لړ ټویټونو کې په دې اړه څرګندونې کړې دي. هغه لیکلي، چې د نړیوالو قوانینو له مخې، د افغانستان او نړۍ په هر ګوټ کې ډیپلوماتان او ډپلوماتیک مرکزونه خوندي دي او د دوی خوندیتوب ځکه مهم دی چې ان د کړکېچ په وخت کې هم د دولتونو ترمنځ لړ تر لړه تعاملات او اړیکې جاري وي.

د اروپايي ټولنې د استازولۍ مشر او سفیر زیاته کړې: «د سفارتونو او نورو ډیپلوماتیکو مراجعو دوامداره فعالیت به د ټولو افغانانو په ګټه وي او د بشري او پراختیایي مرستو په رسولو کې به د افغانانو لاسنیوی وکړي.» سفیر وون برنټ د خپلو ټویټونو په پای کې ویلي، په ډاډ سره چې ده نه د کومې پټې معامې یا نه هم د طالبانو د خوځښت په اړه د ساده فکر په اړه اشاره کړې، بلکې د طالبانو هغه دوه عمومي اعلانونه یې یاد کړي چې ویلي یې دي ډیپلوماتیک مرکزونه به امن وي او طالبان په هېواد کې د پراختیایي او بشري مرستو د دوام لېوالتیا لري. د اروپايي ټولنې دغه لوړپوړي چارواکي داسې وخت په افغانستان کې د ډیپلوماتیکو مرکزونو په خوندیتوب ټینګار کړی، چې په هرات کې د طالبانو لهخوا د یوناما په دفتر د بریدونو راپور ورکړل شوی. یوناما ویلي له طالبانو یې غوښتي، چې د دغه برید عاملان چې یو ګارډ یې وژلی، باید ځواب ویونکي اوسي او د دې قضیې جدي پلټنه وکړي.

## ویلسن: طالبانو د دوحې تړون خلاف تاوتریخوالی او جګړې ډېر کړي



۲ مخ

## سازمان داکتران بدون مرز: مردم شهر لشکرگاه از اثر جنگ‌های شدید در خانه‌های‌شان حبس شده‌اند



سازمان داکتران بدون مرز در افغانستان اعلام کرده است که جنگ در ولایت هلمند به بن‌بست برخورده و مردم و کارمندان این سازمان در خانه‌های‌شان حبس شده‌اند.

این سازمان اعلام کرده است که مردم در شهر لشکرگاه، مرکز ولایت هلمند، در خانه‌های‌شان به دام افتاده‌اند. هم‌چنان این نهاد گفته است که در نتیجه حملات هوایی و برخورد گلوله و راکت به خانه‌های مسکونی، شمار زیادی از غیرنظامیان کشته و زخمی شده‌اند.

طبق اعلام این سازمان، از چهار روز گذشته دست‌کم ۷۰ زخمی ناشی از جنگ در این ولایت زیر درمان داکتران این سازمان قرار گرفته‌اند. به گفته سازمان داکتران بدون مرز، تیم‌های این نهاد شاهد پیامدهای سنگین جنگ در هلمند هستند. این سازمان افزوده است که هرچند شفاخانه‌ها باز است، اما دسترسی مردم به آن بسیار دشوار شده است. از سویی هم، سارا لیهی، هماهنگ‌کننده پروژه‌های سازمان داکتران بدون مرز در افغانستان تصریح کرده است: «مبارزه در داخل شهر، روند ارایه خدمات را برای ما دشوار می‌کند. کارکنان ما بخشی از جامعه هستند و آن‌ها نیز مانند بسیاری از مردم از بیرون شدن از خانه‌های‌شان می‌ترسند. این، بیش از حد خطرناک است.»

این در حالی است که جنگ در هلمند به‌شدت ادامه دارد و گزارش‌های تازه حاکی از آن است که گروه طالبان هم اکنون در شهر لشکرگاه، مرکز این ولایت، با نیروهای امنیتی درگیر است.

کتاب مو
د ژوند ملګری کړئ
Aksos
اکسوس کتاپلورنځی
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### خلک د جګړې دې دوام هرکلی نه کوي

ولسمشر غني پرون د ملي شورا یوې فوق العاده غونډې ته د روانې جګړې او سولې په اړه وینا وکړه او د راتلونکو شپږو میاشتو لپاره یې د حکومت پلان روښانه کړ. نوموړي د طالبانو پر ضد تونده ژبه وکاروله، هغوی یې خوارج وګڼل او ویې ویل چې تر پخوا لا زیات وحشي شوي او له استخباراتي شبکو سره یې اړیکې پیاوړې شوې دي. ولسمشر غني وویل چې د سولې لپاره یې لوی ګامونه اخیستي، خو طالبان سوله نه غواړي او هڅه کوي چې د زور له لارې واک تر لاسه کړي. نوموړي وویل چې ټول تیاري نیول شوي او تر راتلونکو شپږو میاشتو پورې به دا موج دفعه کړو او ثبات ته به ورسیږو. ولسمشر پر خلکو او د ملي شورا پر غړو غږ وکړ چې د حکومت په څنګ کې ودریږي، خلک منسجم کړي او د طالبانو پر ضد جګړه وکړي.

د ولسمشر غني په خبرو کې خلکو ته واضح پیغام و چې تر راتلونکو شپږو میاشتو پورې به سخته جګړه وي او د ده په وینا، د جمهوریت لوری به بریالی کیږي. که څه هم نوموړي د سولې پروسې د نه بریا پړه پر طالبانو واچوله، خو دا پیغام یې هم ورکړ چې د سولې هڅې بې پایلې دي او خلک له جګړې سره مخ کیدونکي دي. خلک د جګړې دې دوام او د سولې د ناکامۍ له پیغام هرکلی نه کوي او نه یې غواړي. یوازې ولسمشر یوه خبره کړې ده چې هغه په راتلونکو شپږو میاشتو کې یو ثبات ته رسیدل دي. که دا کار وشي، ښه ده او خلک به یې هرکلی وکړي، خو دا کار به څه ډول کیږي؟ ولسمشر یوازې دومره وویل چې تیاري نیول شوي، خو څه ډول؟ څنګه به دا ثبات راځي او څوک به یې راولي؟ د طالبانو د دغه پرمختګ مخه به څنګه نیول کیږي؟ ښارونه به څنګه خوندي کیږي؟ د کلیوالو سیمو برخلیک به څه ډول وي؟ له بله اړخه هغه ستونزې به څنګه حل کیږي چې حکومت ورسره مخ دی او په دې شپږو میاشتو کې به ولسمشر غني په کومو منابعو، امکاناتو او ملاتړ ثبات راولي؟ دا هغه پوښتنې دي چې که ځوابونه یې خلک قانع کړي، نو بیا ښایي وویل شي چې د ولسمشر غني په خبرو کې یو مثبت پیغام و. له دې پرته دغو خبرو یوازې د جګړې د دوام او د سولې د ماتې پیغام لیږداوه. آن پر طالبانو سختې نیوکې او تونده ژبه به د سولې روانو نیمه او پیکه هڅو ته لا زیان ورسوي او جګړه به ګرمه کړي.

له بله اړخه ولسمشر او ټول باید درک کړي چې مسئله دومره یوازې توره او سپینه نه ده. لوبه پیچلې ده، ملامتي او سلامتي وېشلې ده او د سولې په برخه کې چې پر طالبانو څومره نیوکې شته، همدومره نیوکې پر حکومت هم شته. د روانې جګړې یو لامل به دا وي چې طالبان د بریا احساس کوي او غواړي خپل زور وښیي، خو ډېر نور لاملونه هم لري چې سترګې نه شي پرې پټېدلی. له همدې امله دلته خبره یوازې د تور او سپین نه ده، بلکې ډېر نور څه هم پکې شته. د افغانستان د خلکو غوښتنه د جګړې دوام نه دی، دوی غواړي چې سوله وشي، د جګړې خبرې او عمل دواړه نه غواړي. دا هغه وخت دی چې دواړه اړخونه ژر تر ژره جګړه ودروي او د سولې خبرې پیل کړي. له دې پرته جګړه تباهي ده او چې په تېرو شلو کلونو کې ثبات رامنځته نه شو او کوم لوری بریالی هم نه شو، نو په شپږو میاشتو او یو کال کې هم دا چاره شونې نه ده. له همدې امله یوازینۍ معقوله لاره چې خلک یې ملاتړ کوي، هغه د جګړې درول، خبرې اترې او د سولې لاره ده.

# د کوویډ-۱۹ د ریښې او خپرېدو په اړه د امریکا شکونه

ليکنه: ډېوه؛ د چین میډیا ګروپ د پښتو څانګې خبریاله

امریکا د کرونا وبا پر وړاندې مبارزه سیاسي کوي، ساینس او حقیقت ته درناوی نه کوي، له دې وبا سره د خپلې کمزورې مبارزې مسوولیت پر نورو هېوادونو اچوي او د نورو هېوادونو د مخه نیولو هڅه کوي. خو د کرونا وبا د ریښې د لټون او پیدا کولو سره سم په امریکا کې تازه رامنځته شوې څو پیښې لا نور شکونه زیږولي دي.

لومړی- د حقیقت له مخې د کرونا وبا د ریښې په اړه ټول شکمن ځایونه باید تر پلټنې او څارنې لاندې ونیول شي، خو د امریکا د ډیټریک فورټ لابراتوار تل خپله دروازه تړلې او پلټنې ته یې اجازه نه ده ورکړې. د ۲۰۱۹ کال په جولای کې په امریکا کې دوې نه منونکې پیښې رامنځته شوې. د امریکا پوځ ناڅاپه د ډیټریک فورټ لابراتوار بند کړ او د دې هېواد په څو ایالتونو کې د برښنایي سیګریټ د څکولو له امله ځینې وګړي د سږو پر ناروغۍ اخته شوي وو چې نښې نښانې یې د کوویډ-۱۹ له ناروغۍ سره یو شان وې. نړیوال ګومان کوي چې ښایي په دغه لابراتوار کې د ویروسونو د خپرېدو پېښه رامنځته شوې وي.

تاریخ ته په کتو له چین څخه د جاپان د تېري کوونکو سرتېرو د ۷۳۱ پوځ لخوا د انسانانو پر بدن میکروب لرونکو ازموینو په اړه درې راپورونه خپاره کړل، چې پر دغه سند باندې (د امریکا د ماریلانډ د ډیټریک فورټ بیالوژیکي لابراتوار) لیک تر سترګو کیږي. د امریکا د آرشیف د معلوماتو له مخې، له ۱۹۴٦ کال تر ۱۹۴۹ هغه پورې د انسانانو پر بدن د میکروب لرونکو ازموینو او وسلو نږدې ٦۰ څېړنې د ډیټریک فورټ په بیالوژیکي لابراتوار کې تر سره شوې. امریکا په هغه وخت کې ۷۳۱ جاپاني پوځ ته پیسې ورکړې، چې د دغو ازموینو ارقام تر لاسه کړي. په ۱۹۵٦ کال کې د ډیټریک فورټ بیالوژیکي لابراتوار د امریکا د فدرالي حکومت لخوا د بیالوژیکي څېړنې په ساحه کې د دایمي اډې په توګه ټاکل شوی.

د ۲۰۱۹ کال په جولای او اګست کې د دغه لابراتوار په یوه سند کې څرګنده شوې چې له دغه لابراتوار څخه دوه ځله د ویروس د خپرېدو چارې رامنځته شوې. د امریکا د ناروغۍ د کنټرول او مخنیوي مرکز پرېکړه وکړه چې په دغه لابراتوار کې د څېړنې کارونه پای ته ورسوي، خو دغه لابراتوار تر لنډ وخت تړل کیدو وروسته بیا د ګټې اخیستنې لپاره په فعالیت پیل وکړ.

دویم- د ۲۰۱ کال پېښه: د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر میاشت کې امریکا د ۲۰۱ پېښې په نامه د نړیوالې ساري ناروغۍ په اړه یو تمرین تر سره کړ او د تمرین د معلوماتو له مخې ویل شوي، چې یو ډول ویروس له حیواناتو څخه پیدا شوی او بزګرانو ته انتقال شوی. دغه ویروس د انسانانو په بدن کې له پنځو ورځو څخه تر اوو ورځو پورې له پټېدو وروسته د ناروغۍ نښه ښکاره کوي، چې د سارس په پرتله په اسانه توګه خپرېدلای شي. په دغه تمرین کې ډیزاین شوی چې ځینې ناروغان پر ویروس له اخته کیدو وروسته د انفلونزا نښه لري او ځینې یې د تنفس سیستم شدیده ناروغي لري او د انسان په بدن کې سږي خپل ښکار ګرځوي. دغه راز دغه ویروس به په ټوله نړۍ کې خپرېږي او په بېوزلو سیمو کې به حالت ډېر سخت کړي.

د دغه تمرین محتویات داسې دي: په لومړیو څو میاشتو کې د ساري ناروغیو د پېښو شمېر په هره اونۍ کې یوه چند زیاتیږي او د ویروس د خپرېدو په لومړي کال کې د دغې ناروغۍ ضد واکسین نه دی جوړ شوی. د تمرین له پایلې څخه څرګندیږي چې دغه ویروس په شپږو میاشتو کې په ټوله نړۍ کې خپرېدلای شي او ټول بهیر د کوویډ-۱۹ د خپرېدو ښتیني حالت ته ورته و. د پاملرنې وړ خبره دا ده چې د امریکا سي ای اې اداره، د دغه هېواد د ناروغۍ د کنټرول د مرکز او د اړوندو تصدیو پنځلسو کارپوهانو په دغه تمرین کې ګډون وکړ.

ولې له دغه تمرین وروسته د کوویډ-۱۹ وبا رامنځته شوې؟ د دغه تمرین ټول بهیر د کوویډ-۱۹ وبا له حالت سره نږدې دی؟ ډېر زیات انټرنېټ کاروونکو په ټولنیزو رسنیو کې خپلې پوښتنې وړاندې کړې، خو تر اوسه یې ځواب نشته.

دریم: د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر له ۲۱مې تر ۲۷مې نېټې پورې د ووهان نظامي سپورټي لوبې تر سره شوې چې امریکا دغو لوبو ته خپل پلاوي رالیږلي وو. خو عجیبه خبره دا ده چې د امریکا د سرتېرو لوبغاړو د سیالۍ توان ډېر کمزوری دی، حتی د ټوپکو ویشتلو په ترخ کې یې صفر ته نښې کړې. امریکا چې تل په نظامي چارو کې ځان د لوی هېواد په توګه بولي، څنګه یې دغه کمزوري سرتېري مهمو سپورټي لوبو ته لیږلي؟ وروسته یوه پېښه رامنځته شوه چې په دغو امریکایي سرتېرو کې پنځه کسه په ناڅاپي ډول ناروغ شوي چې نښې نښانې یې د کوویډ-۱۹ ناروغۍ ته ورته وې. خو په هغه وخت کې په ووهان ښار کې د کوویډ-۱۹ وبا نه وه. امریکا بیا د ځانګړې الوتکې له لارې دغه پنځه سرتیري بیرته خپل وطن ته یوړل. امریکا په ټوله نړۍ کې تر ټولو پرمختللې بیالوژیکي ټېکنالوژي لري او له پخوا څخه یې د بیالوژیکي جګړې د تر سره کولو جنایت درلود. د ووهان له نظامي سپورټي لوبو وروسته د کوویډ-۱۹ وبا د ډسمبر په څلورمه نېټه پیدا شوه، خو په ووهان ښار کې د کوویډ-۱۹ لومړی ناروغ د ووهان ښار ناروغ نه دی.

د ووهان په نظامي سپورټي لوبو کې د امریکا د سرتېرو لوبغاړو شمېر څه د پاسه ۳۰۰ تنو ته رسېدلی. خو دوی په ووهان ښار کې د سیالیو مخکینې تمرینونه تر سره نه کړل او سیالیو ته یې پاملرنه نه وه کړې، خو هره ورځ یې په دغه ښار کې تګ راتګ کاوه. دغه پلاوي په دغو لوبو کې د مډالونو په لېست کې ۳۵م مقام نیولی او هیڅ یو طلایي مډال یې نه دی تر لاسه کړی. دا له حقیقت سره بیخي سمون نه درلود. خو کله چې دوی له ووهان ښار څخه ووتل، په ووهان ښار کې د کوویډ-۱۹ وبا رامنځته شوه. د دغو پېښو تر منځ اړیکې څنګه دي؟ امریکا باید په هغو امریکایي پوځیانو کې د ناروغانو اړوند معلومات خپاره کړي!

# ویلسن: طالبانو د دوحې تړون خلاف تاوتریخوالی او جګړې ډېر کړي



د افغانستان په جنوب او لوېدیځ کې د طالبانو د بریدونو زیاتېدو امریکایي چارواکي اندېښمن کړي دي. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې پر لښکرګاه، کندهار او هرات ښارونو د طالبانو بریدونه زیات شوي دي. په کابل کې د امریکا سفارت شارژدافیر راس ویلسن وایي، دا بریدونه د اندېښنې وړ دي، خو افغان پوځیانو یې تر اوسه ښه ځواب هم ورکړی دی. ویلسن زیاته‌کړې، چې طالبانو د امریکا-طالبانو د دوحې تړون یو شمېر برخې چې یوه پکې د تاوتریخوالي کمول وو، نه دي پر ځای کړي.د هغه په خبره: «هغه بریدونه چې په تېرو څو ورځو کې په ځانګړې توګه لښکرګاه، کندهار او هرات کې شوي، ډېرې اندېښنې راپورته کوي. موږ افغان دفاعي او امنیتي ځواکونه هڅولي، کار مو ورسره کړی چې د دغو بریدونو پر وړاندې د مبارزې لپاره له معقولې پلې کېدو وړ واقعي تګلارې سره مخ ته شي. افغان ځواکونو د څو اونیو په اوږدو کې ښه فعالیت کړی. دوی په یو شمېر سیمو کې طالبان بېرته په شا تمبولي دي. په یو شمېر سیمو کې یې د لاسته راوړنو مخه نیولې، نو ډېر مسایل شته. ډېر جنجالونه دي او مسوولیت اوس د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو پر غاړه دی.» د نوموړي په خبره، د طالبانو وروستیو پرمختګونو په تېره په شمال کې د ګڼو سیمو د نیولو مسئلې ټول حیرانه کړي دي. ویلسن دغه څرګندونې داسې مهال کوي، چې له افغانستانه د امریکایي او ناټو ځواکونو د وتلو له پیل سره سم، تاوتریخوالی اوج ته ورسېد او په نږدې ۳۰ ولایتونو کې افغان پوځیان له وسله‌والو طالبانو سره په نښته بوخت دي. د راپورونو له مخې، د افغانستان له څه باندې ۴۰۰ ولسوالیو نیمایي یې په وروستیو دریو میاشتو کې طالبانو ته په لاس ورغلې. د امریکا سفارت شارژدافیر وایي، سره له دې چې طالبان له امریکا سره تړون لري، خو ګڼو برخو ته پابنده نه دي. هغه زیاتوي: «د متحده ایالاتو - طالبانو په تړون کې شته داسې مسایل چې طالبان تر ډېره ورته ژمن دي. یو شمېر داسې مسایل هم دي چې هغوی زموږ په باور وربانډې پابندي نه‌لري. د ترهګرۍ ضد مبارزې په اړه د دوی ژمنې په بشپړ ډول نه دي پوره شوي. دوی د خبرو په مستقیمه اغېزمنه لار کې نه دي ښکېل شوي. د تاوتریخوالي کچه چې موږ باور درلود راښکته به شي، راټيټه نه شوه، بلکې لا پسې پورته لاړه.»

# یاري په جواري او کلي په زور نه کیږي

لیکنه: عبدالوحید وحید

بدبختانه، د سیاست څرخونه مو د ولس د هیلو او د هیواد د ګټو په محور نه، بلکې له ملي ګټو سره په بشپړ تقابل کې په تشو ژمنو، شعارونو او پیغامونو را څرخیږي. حکومت له نظام او امنیتي ځواکونو څخه د ملاتړ په نوم غونډې جوړوي او لاریونونه کوي، خو هېره یې ده چې د نظام او امنیتي ځواکونه ملاتړ د دغو فرمایشي غونډو په پرتله د سولې په چوکاټ کې په ښه توګه کولای شو. ملت پوهیږي چې که د غونډو دغه نوښتګر کله هم له واک څخه لرې شي، نو نه یوازې بل هېواد ته به ځي، بلکې د نظام د خرابولو هڅه به هم وکړي، خو ملت به دلته پاتې وي او د ناورین د مخنیوي په موخه به د نظام او امنیتي ځواکونو ملاتړ کوي. زه نظام ته په نظام کې د ننه ګوابښونه له بهرنیو ګوابښونو څخه جدي او خطرناک ګڼم.

ملت مو د جګړو په لمبو کې سوځي، کورونه ورڅخه پاتې کیږي او ډېری له شنه اسمان لاندې ورځې او شپې تیروي. هیواد مو کنډواله کیږي او مونږ ورته د بېوسۍ په سترګو ګورو. طالبان ولس ته اعلامیې خپروي چې د هغوی تر مدیریت لاندې سیمو کې میشت خلک به نه ځورول کیږي، خو په ډېرو مواردو کې واقعیتونه بل شان دي. په ځینو سیمو کې د عمل په ډګر کې د خبرو او کړنو تر منځ ټکر مشهود دی او کړنې یې ځورونکی انځور وړاندې کوي. ولسمشر غني په بهرنۍ نړۍ کې د افغانستان د ګټو ښه استازیتوب، له نړیوالو سره مفاهمه، په انګلیسي ژبه ښې خبرې، ښه استدلال، د اقتصادي بنسټونو د پرمختګ لپاره پلان او د نړیوالې ټولنې باور تر لاسه کولای شي؛ خو کورنۍ تګلاره یې ناکامه ده. هر وخت د تزلزل او تذبذب ښکار وي. کار اهل کار ته نشي سپارلی. په لوړو ملي پوستونو باندې داسې اشخاص ګمارل شوي دي، چې د ملت په فکري لومړیتوبونو نه پوهېږي. د فساد پر وړاندې مبارزه یې د سلیقو پر بنسټ ده. د جامع او هر اړخیز پلان په تیاري کې پاتې راتلل او له نظام سره د واک تړل یې ستره نیمګړتیا ده. د سولې په تړاو په هر بنسټ د طالبانو او سولې د سرسختو مخالفینو په ګمارلو باندې تمرکز کول سولې ته په رسېدو کې ستونزه جوړوي. د چاپلوسانو لخوا د مخالفینو د ځپلو شعارونو، د ولسوالیو د بېرته نیولو چیغو، د نمایشي حمایتي غونډو جوړولو او د ډېرو مخالفینو د وژلو په اعلانونو باندې ولسمشر غني ته اوسنی وضعیت سرچپه ښودل کیږي.

د نظر له خاوندانو سره د سلا او مشورو پر ځای په پخوانیو جنګسالارانو او نامسوولو توپکوالو د توپکو وېشلو او د جګړو ډګر ته را ایستل د ولسمشر هغه تېروتنه ده، چې بوږنوونکې پایله به ولري. حکومت په ټولیزه توګه د عیني واقعیتونو د درک او اړینو پرېکړو کولو پر ځای د چاپلوسانو د لاسونو په پړکا د ملي حمایت حساب کوي.

طالبان د ولسوالیو نیولو او لاسته ورغلیو امکاناتو هک پک کړي دي. نه پوهیږي چې اوس څه پرې وکړي. بس د جنګي جنون ویروس یې مغزو ته ننوتی دی. شاته نه ګوري چې وژل شوي خلک څوک وو؟ څوک یې تسلیم کړل؟ او کوم هیواد یې فتحه کړ؟ په ځینو سیمو کې د هغوی د افرادو لخوا د ناوړه کړنو تر سره کول د تأسف وړ خبره ده. هغوی د ستونزو عمق ته د تلو پر ځای په خپلو افرادو باندې د لګول شویو تورونو په ردولو بسنه کوي. جګړه کولای شي، خو د سیاست په ډګر کې پاتې راغلل او د اوسنیو شرایطو په حساسیت نه پوهېږي.

قطر مېشتي طالبان اوس د نړۍ او نړیوالو په خبرو باندې پوهیدلي دي چې د زور له لارې د واک تر لاسه کول به ورته خورا بوږنوونکې پایلې ولري. په نړیواله کچه د طالبانو انزوا، د کورنیو جګړو د پیل او د افغانستان د تباهۍ لامل ګرځېدای شي. ستونزه دلته ده چې د قطر د سیاسي دفتر مشرانو او د جګړو په ډګر کې د جنګېدونکو طالبانو تر منځ فکري توپیرونه د سولې پروسه پېچلتیا ته بیایي.

که مونږ غواړو چې افغانستان د تل لپاره یو متمدن هیواد شي، نو د توپک د شپېلۍ په زور به د واک تر لاسه کولو خونړۍ لاره بدلوو. واک تر لاسه کول به د داسې قانون له مخې وي چې د اسلامي اساسي ارزښتونو تر څنګ د بیان ازادي، د ټول ټاکنو له لارې د ولسي ارادو تمثیل، مشارکت او بشري حقونو ته درناوی پکې خپل ځای ولري. د توپک په ماشه واک ته رسیدلي خلک یوازې دومره کار کولای شي چې دغه هېواد له یوه ناورین څخه بل ته ولېږدوي.

د تېرو څلورو لسیزو له مشاهدو او تجربو څخه مو دومره زده کړې چې کلي په زور نه کېږي او یاري په جواري، سوله د توپک له شپېلۍ نه راوځي، کورني بغاوتونه په وژلو نه حل کېږي او ورور د ورور په مقابل کې جنګیدل او جنګول که مجبوریت هم وي، خو په هیڅ ډول د ویاړ وړتیا نه لري.

د جګړو په دوام کې بېګناه انسانان سرونه خوري، خو ګټې یې د هغو خلکو په برخه وي چې د انسان له غوښو څخه ګټل شوې ډوډۍ یې خوراک، د معصومو ماشومانو وینه یې عایداتي سرچینه او د انبار شویو انساني جسدونو له ننداري څخه خوند اخلي. جګړه له نفرتونو، کرکو، ویرونو، ساندو، ماتمونو او دردونو پرته بل څه نه زیږوي. تعجب ده چې د بدو خلکو بد ژوند او بد مرګ د تاریخ په سینه کې ثبت دي، خو بد خلک بیا هم ورباندې سترګې پټوي. د لسګونو میلیونو انسانانو له قاتلینو لکه نیپولین، هټلر، چنګیز او هلاکو څخه د هغوی خپل خلک هم نفرت کوي. ښه نوم نه لري او مرګونه یې په بد حالت کې وو.

سوله د افغان ولس یوازینۍ هیله ده. سوله همت، حکمت او پیاوړي اراده غواړي. خورا اړینه ده چې حکومت وسلوالو مخالفینو ته د ګوابښونو او جګړو ته د زور ورکولو له لارې نه؛ بلکې د راکړې ورکړې په فارمول د سولې پروسه پرمخ بوځي. نظام باید په هر حال خوندي او سوله باید تضمین شي. که طالبان د خپل راتلونکي رول په اړه فکر کوي، نو جګړه د ولسوالیو او ولایتونو سقوط یې قطعاً حللاره نه ده، بلکې فاجعه زیږوونکې ده.

که د سولې لپاره د پلان په جوړولو د ځنګل قانون پلی کیږي او یا هم په یوه او بله بانه د خپلې ډلې لپاره امتیازات غوښتل کېږي، نو په یقین سره وایم چې دغه وړی نه شړی کیږي. بیا وړاندیز دا دی چې دواړه لوري خپلې غوښتنې په دقیقه او مشخصه توګه له مبهمو الفاظو کارولو پرته درېیمګړي منصفه هیئت ته د پرېکړې له مطلق واک سره وسپاري.

تیرو څلورو لسیزو جګړو د افغان ولس د زړه زور اوبه کړی دی. هر هغه څوک چې په لوی لاس د دې جګړې اوږدول غواړي، باید وپوهیږي چې دغه جګړې نه یوازې انساني ارزښتونه له منځه وړي، بلکې لرې نه ده چې د دې دوزخي اور لمبې یې د کور په انګړ کې هم راتاو شي.

که د تاریخ پاڼه راواړوو او د وژونکو له بد انجام څخه زده کړه وکړو، پوهیږو چې جګړې بریاوې نه راوړي، بلکې د یو بل منل، بښل او سوله ییزه انګېزه د ژوند موخه ګرځول بریاوې راوړي. د ختیځ او لوېدیځ المان یو کیدل، د جنوبي افریقا تور پوستو او سپین پوستو یووالی، په امریکا کې د تور او سپین یو کېدل او په روندا کې د دوو قومونو تر منځ د قتل عام غچ اخیستنې هوډ پرېښودلو تر شا د بښنې زغم او یو بل د منلو انګېزه پیدا او بیا دغو هیوادونو ته د پرمختګونو لاره پرانیستل شوه .

# د سولې نامعلوم برخلیک او جګړې ته چمتووالی؛

## ولسمشرغني: طالبان سولې ته جدي اراده نه لري، د جګړې په ډګر کې به یې مات کړو

په افغانستان کې د امنیتي وضعیت له ترینګلتیا او پر لویو ښارونو د وسله والو طالبانو له پراخو بریدونو وروسته، ولسمشر غني نن د ملي شورا د دواړو جرګو فوق العاده غونډه رابللې وه. نوموړي په یاده غونډه کې وویل چې حکومت یې د سولې لپاره لویه قرباني ورکړې او په دې برخه کې یې هېڅ ډول هڅې نه دي سمپولې، خو په خبره یې طالبانو د دې هرڅه په بدل کې یوازې پر جګړې تمرکز کړی او د ټولو هوکړو خلاف یې افغان وژنې ته دوام ورکړی دی. هغه زیاته کړه: «پایدارې او عادلانه سولې ته رسېدو لپاره موږ لویه قرباني ورکړې او لویه بیه مو پرې کړې ده. موږ ډېره نرمي وښودله او داسې ګامونه مو واخیستل چې د نړۍ په هېڅ کونج کې یې حکومت د پورته کولو جرئت نه لري، خو زموږ دښمن نه یوازې د سولې خوا ته ګام وانخیست، بلکې زموږ اخلاص او صداقت یې زموږ کمزوري وګڼله او تاسې شاهد یئ چې جنګ یې پر موږ تحمیل کړ.»



نوموړي دغه راز ټینګار وکړ، چې لا هم سولې ته ژمن دی، خو په خبره یې طالبان هڅه کوي چې د زور له لارې واک ته ځان ورسوي.

د ولسمشر په خبره، دغې ډلې د پخوا په پرتله منفي تغیر کړی او تر پخوا زیات د پردیو په اشارو د خپلو افغانانو پر وړاندې ظلم ته دوام ورکوي. هغه زیاتوي: «طالب د ۲۴ کلونو وړاندې طالب نه دی، تر پخوا متشدد شوی، له نړیوالو ترهګرو سره یې نه یوازې دا چې اړیکې ته دي پرې کړې، بلکې نورې یې هم ورسره پیاوړې کړې.»

ولسمشر دغه راز د اوسني وضعیت اصلي لامل په ناڅاپي توګه له افغانستانه د ټولو بهرنیو ځواکونو وتل بولي، خو په خبره یې، افغانان په خپل یووالي او واحد دریځ سره له روان پېچلي وضعیت څخه وتلی شي.

هغه یو ځل بیا ټینګار وکړ چې نوي پلان له مخې به تر راتلونکو شپږو میاشتو په روان وضعیت کې د پام وړ بدلون راشي. نوموړي زیاته کړه: « زموږ امنیتي پلان واضح دی، نه غواړم دلته پرې مفصل بحث وکړم. یوازې دومره وایم چې ټولې امادګۍ مو نیولې، ترڅو په راتلونکو شپږو میاشتو کې د فتنې دغه موج دفع کړو او د استقرار حالت ته ورسېږو.

په دې کې هم شک نشته چې د دې پلان مهم عنصر، زموږ د امنیتي او دفاعي ځواکونو ترڅنګ د خلکو بسیج دی.»

بلخوا د ملي شورا دواړو جرګو هم په یوه ګډه اعلامیه کې د جمهوري نظام او د تېرو دوو لسیزو له لاسته راوړنو پر خپل ملاتړ ټینګار وکړ او له طالبانو یې وغوښتل چې د سولې لار خپله کړي او نور دې روانو ناخوالو، ورانیو او افغان وژنې ته د پای ټکی کېږدي.

ولسمشر دغه راز خبرداری ورکړ چې هېڅ ورانوونکې ډلې ته به تسلیم نه شي او په وینا یې، یا به د سولې له لارې یوې هوکړې ته رسېږي او یا به هم د جګړې په ډګر طالبانو ته ماتې ورکوي. بلخوا طالبانو هم د ولسمشر دغو څرګندونو ته غبرګون ښودلی دی. د دې ډلې ویاند ذبیح الله مجاهد ویلي چې ولسمشر غني په دې ډول خبرو غواړي چې روان وضعیت کابو کړي، خو په خبره یې، دغه ډول خبرې او تورونه به هېڅ ځای ونه نیسي.

## د کتــاب خبـرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ويکتور فرينکل**
ژباړن: **میراحمدیـاد**




## د بېگار د کمپ (زندان) تجربې

په همدې وخت کې مې چې له نهيلۍ او ناڅاپي مرگ سره مبارزه کوله، ما داسې احساس کړه لکه اروا مې چې د خپگان پرده شلولې وي. داسې مې حس کړه لکه اروا مې چې تر دې بې ارزښته او بې مانا نړۍ لوړه شوې وي او دې پوښتنې ته مې د «هو» ځواب اورېدلی وي چې ایا د انسان زېږون کومه موخه لري؟ په هغه شېبه کې، هلته لرې په کوټنۍ کې يو څراغ روښانه شو. کوټنۍ داسې ښکارېده لکه د باوريا په افق کې چې رسم شوې وي او په تياره کې رڼا ځلېدله. ساعتونه به ولاړ وم او په گېنټې (کولنگ) به مې يخ وهلې ځمکه کيندله. کوم ساتونکی به چې راباندې تېرېده، سپکاوی به يې راته کاوه او زه به بيا له خپلې معشوقې سره پر راز و نياز بوخت وم. دا احساس ډېر قوي و. هغه راسره وه، بيا په همدې وخت کې يوه مرغۍ غلې راوالوته او ما ته مخامخ د هغې خاورې پر ډېرۍ کېناسته چې ما له کندې را ايستلې وه، مرغۍ ما ته راکتل.

مخکې مې د هنر يادونه وکړه، په زندان کې داسې څه شته؟ دا په دې پورې اړه لري چې انسان څه شی هنر بولي. کله کله به په زندان کې ننداره (صحنه) هم جوړېده. يوه خونه به يې د لنډ وخت لپاره تشه کړه، څو لرگينې څوکۍ به يې سره کېښودې يا به يې سره مېخ کړې او د هغو له پاسه به ننداره کېده. دلته به د شپې هغه خلک راټولېدل چې لږ امتياز به يې درلود. يوه ډله به کاپوگان وو او بله ډله به هغه بنديان وو چې د کار لپاره به لرې ځايونو ته پلي نه لېږل کېدل. دوی به سره د يوې خولې خندا يا ښايي ژړا لپاره راټولېدل چې يوه شېبه هر څه هېر کړي. دلته به سندرې وې، شعرونه به وو، ټوکې به وې او د زندان په اړه طنزونه هم وو. دا ټول کارونه په دې خاطر کېدل چې يوه شېبه هر څه هېر کړو او هېرېدل هم. دا ننداره دومره اغېزناکه وه چې ځينې عادي بنديان به د ټولې ورځې ستړي بيا هم ورتلل او حتی د شپې ډوډۍ به يې هم پکې بايلله.

موږ ته به يې د ډوډۍ لپاره نيم ساعت دمه راکوله. په دې دمه کې به يې ښوروا (سوپ) راوړه. د دې سوپ پيسې به قراردادیانو ورکولې او چندانې بيه يې هم نه وه. دا ښوروا به يې په کارځای کې راکوله. موږ دا اجازه درلوده چې د فابريکې يوې نيمگړې خونې ته ننوځو. هلته په ورننوتو به هر کس ته يوه يوه ځمڅۍ نرۍ ښوروا ورکول کېده. موږ به دا ښوروا په خوند څښله. په دې وخت کې به يو بندي مېز ته وخوت او ايټاليايي سندرې به يې ويلې. موږ به له دې سندرو خوند اخيست او له ده سره به د يوه بل کنډول ښوروا ژمنه کېده، دا کنډول به د دېگ له بېخه و، ياني چڼې (نخود) به هم پکې وې.

په زندان کې به دا جايزه يوازې په سندرو او ساعت تېرۍ نه، بلکې په چکچکو وهلو هم ورکول کېده. مثلاً سره له دې چې ما ته د دې خونديتوب حاجت نه و پېښ شوی، خو په دې چکچکو له هغو بدو کاپوگانو هم يو خونديتوب ترلاسه کېده چې په يوه دليل به يې «وژونکي کاپوگان» بلل. کيسه داسې شوه. يوه شپه ما بيا هغې خونې ته د بلنې وياړ وموند چې د ارواوو حاضرولو مراسم پکې ترسره کېدل. بيا هماغه د مشر ډاکټر ملگري او په ناقانونه ډول د تنظيف د څانگې مشر راټول شوي وو. وژونکی کاپو تصادفي خونې ته راننووت او غوښتنه ترې وشوه چې خپل يو داسې شعر ووايي چې په زندان کې ډېر مشهور يا پرې دی رسوا شوی وي. د دويم ځل بلنې اړتيا هم پېښنه نه شوه، سمدستي يې له جېبه د شعرونو کتابچه راوايسته او د خپلو شعرونو پر لوستو يې پيل وکړ. يوه عشقي شعر يې ما ته داسې خندا راوسته چې د مخې نيولو لپاره مې خپلې شونډې وچيچلې او تر هغه مې چيچلې چې درد يې وکړ. داسې ښکارېده چې همدې مې ژوند وژغوره. په چکچکو کې مې دومره سخاوت وکړ چې که بيا ځلي د ده په کاري ډله کې راغلی وای، هم ژوند مې خوندي و. د ده ډلې ته يوه ورځ مخکې تللی وم او همغه مې بس وه.

**دوام لري...**

# ممنون مقصودي

احسان الله کريمي

ممنون مقصودي د افغانستان د مشهور استاد شاه مقصود گرم زوی دی، چې په خپل وخت کې د ښه نوم او شخصيت استاد و. مقصودي له آره د ننگرهار ولايت د کوټ ولسوالۍ اوسېدونکی دی، چې اوس په کابل ښار کې د قصبې په نوم سيمه کې ژوند کوي.

مقصودي لومړنۍ زده کړې په کابل کې د عمران په ښوونځي کې پيل کړې او تر اتم ټولگي يې په همدې ښوونځي کې زده کړو ته دوام ورکړ. بيا يې له اتم ټولگي تر دوولسم هغه پورې په ابن سينا ښوونځي کې زده کړو ته دوام ورکړ او وروسته بيا د وخت جبري پوځي دندې ته ونيول شو او عسکري دنده يې درې کاله او شپږ مياشتې تر سره کړه. له عسکرۍ وروسته بيا د کابل پوهنتون ښکلو هنرونو پوهنځي ته د کانکور ازموينې له لارې بريالی شو. د پوهنځي وروستی کال يې و چې په کابل کې سياسي وضعيت خراب شو او دی هم لکه د نورو افغانانو په څېر کډې کولو ته اړ شو. ښاغلي ممنون مقصودي يوولس کاله د کډوالۍ ترخې، لوړې او ژورې په پاکستان کې وليدې او په خبره يې هغه وخت په خپل وطن پسې ډېر ځورېده. مقصودي د کډوالۍ پر مهال په ۱۹۹۴ کال د بي‌بي‌سي په تعليمي خپرونه (نوی کور او نوی ژوند) کې کار پيل کړ.

ښاغلی ممنون مقصودي د افغانستان د گوتو په شمار له څو تکړه ممثلانو، هنرمندانو او ډرامه جوړونکو څخه شمېرل کېږي. ښاغلي مقصودي د راډيويي ډرامو، راډيويي داستانونو، فلمونو او د ننداري په بهير کې د تمثيلي پارچو او هر اړخيزو سټېج ډرامو په جوړولو کې کار کړی دی او له بي‌بي‌سي راډيو سره يې په تعليمي خپرونو کې د فعال ممثل، سناريسټ او راډيو ډرامو ډايرکټر په توگه دنده تر سره کړې ده.

مقصودي وايي چې له تمثيل او ډرامې سره يې له ډېر ماشومتوبه مينه درلوده او په خبره يې کله چې په اووم او اتم ټولگي کې و، احساس يې کړه چې مشره خور صايمه مقصودي چې په راډيو ډرامو کې يې کار کاوه او مشر ورور داوود مقصودي چې هغه هم په راډيو ډرامو کې مصروف و او له هغوی به يې د خپلو استادانو توصيف اورېده، د ده په زړه کې هم دا راوگرځېده چې راشه په دې برخه کې خپل استعداد وازمويه. وروسته بيا هماغه وو چې په دې برخه کې يې لومړني گامونه ډېر وستايل شول او ده نور دې برخه کې کار کولو ته مخه کړه.

مقصودي وايي لومړي تمثيلي کارونه يې د ښوونځي په دوران کې د ملي ورځو د نمانځلو او د ښوونکي ورځې په وياړ د پروگرامونو په لړ کې پيل کړل او بيا قدم په قدم آن د افغانستان تر ملي راډيو- ټلوېزيون او ملي ننداري پورې ورسېد. د ښاغلي ممنون مقصودي په خبره، د تمثيل لومړنۍ زده کړې يې له استاد ښاغلي فضلي چې په ف- فضلي مشهور و او له استاد رفيق صادق څخه کړې ده چې له هر يوه يې په دې برخه کې ډېر څه زده کړي دي.

ښاغلي مقصودي که څه هم چې په لسگونو تياتر نندارو، راډيويي ډرامو، تمثيلي پارچو او لسگونو فلمونو کې کار کړی دی، خو تر ټولو ډېر شهرت يې د «د کونډې زوی» سريال کې تر لاسه کړی او د خلکو منځ کې د شادگل په نوم مشهوره دی، چې تر اوسه يې دغه هنري کرکټر د خلکو تر منځ بې جوړې بريالی يادېږي . لسيزې وړاندې ممنون مقصودي د کونډې زوی سريال کې د شادگل مشهور رول ولوباوه، چې تر اوسه يې هم خلک له ليدو خوند اخلي. هغه اوس هم د افغانستان د سينما له محبوبو څېرو څخه دی.

خلک د ممنون مقصودي په اړه بېلابېل نظرونه لري او وايي ممنون مقصودي په سختو حالاتو کې د افغاني ټولنې ربښتينی انځور د تمثيل په ژبه وړاندې کړی او د تياتر په برخه کې يې هڅې نه ستړې کېدونکې دي.

دوی دغه راز نيوکه کوي چې که چېرته هغه ته د فلمونو او سريالونو جوړولو په برخه کې زمينه برابره شوې وای، نو زموږ د سينما برخه به نن داسې تش لاس نه وای او پرديو سريالونو او فلمونو به زموږ د فرهنگ جرړې نه ايستلې.

ممنون مقصودي وايي چې د کونډې زوی سريال يوازې درې برخې ثبت شوې او نورو برخو ته پرېنښودل شو. دی گيله من دی او وايي که چيرته پرېښودل شوی وای، اوس به يې ډېر کار کړی وای او لږ تر لږه د پرديو سريالونو مخه به يې نيولې وه. مقصودي زياتوي چې حتی د دې سريال راتلونکو برخو ته د هيواد ځينو ليکوالانو د کيسو کار هم پيل کړی و، خو مادي ستونزې او په هيواد کې روان وضعيت د دې سبب شول چې تر اوسه لا هم د دې سريال پاتې برخې ثبت نشي.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت هم مني چې د تياتر په برخه کې تر اوسه ممثلينو ته هغسې کار نه دی شوی لکه څنگه چې پکار وه. د دغه وزارت کلتوري او هنري معين هارون حکيمي وايي چې دوی پلان لري نږدې راتلونکي کې د ممنون مقصودي په څېر نورو شخصيتونو ته په بېلو برخو کې د کار زمينه برابره کړي. د نوموړي په خبره، د دې وزارت رهبري ژمنه ده چې د تياتر په برخه کې خپلې هڅې گړندۍ کړي او له ممثلينو سره په بېلو برخو کې مرستې وکړي.

ښاغلی مقصودي دوه زامن او يوه لور لري. د ممنون مقصودي مېرمن لينا مقصودي نومېږي او هغه هم د نوي کور نوي ژوند په راډيويي ډرامو کې د عاطفې په نوم د يو کرکټر رول لوبوي.

مقصودي له سپوږمۍ راډيو سره په يوه ځانگړې مرکه کې ويلي، چې لا يې هم د ټولنې پر وړاندې خپل حق نه دی ادا کړی او ډېر کار ته اړتيا ده چې بايد تر سره يې کړي، خو په هيواد کې روان وضعيت يې د کارونو پر وړاندې خنډ جوړ کړی او دا حالت يې ډېر ځوروي.

ممنون مقصودي هغه وخت لا شهرت وموند چې (د کونډې زوی) په سريال کې يې د شادگل کردار ولوباوه. دغه سريال نه يوازې دا چې په خپل وخت کې يو ډېر مشهور سريال و، بلکې دا سريال تر لسيزو پورې خلکو په کورونو کې ډېر په مينه کتلو او اوس هم ډېر مينه وال لري.



ښاغلی ممنون مقصودي د کډوالۍ په وخت په وروستيو کې په يو هنري فلم کې هم راڅرگند شو. دا فلم «نيلوفر در باران» نومېده او د فلم ډايرکټر يې همايون کريمپور دی، چې په فرانسه کې مېشت دی. نوموړی هنري فلم په فرانسوي او فارسي ژبه جوړ شوی او د همايون کريمپور په نوښت د نړۍ په اتو غټو فيسټيوالونو کې ښودل شوی دی، چې ځينې جايزې يې هم اخيستې دي.

د نورو افغانانو په څېر مقصودي هم د وطن جنگ جگړو گډوالۍ ته اړ کړ دی او وايي، هغه شېبې يې په ژوند کې تر ټولو سختې وې چې کله له وطن څخه کډوالۍ ته اړ شو او هر څه يې پرېښودل. نوموړي په کډوالۍ کې ډېرې سختې تېرې کړې او د وطن په حالاتو به يې زړه ټوک ټوک کيده. نوموړی وايي دا چې اوسمهال په خپل وطن کې له خپلو بچو او هيوادوالو سره اوسي، خوښ او له خپل ژوند څخه راضي دی.

ممنون مقصودي تر اوسه پورې له لسو په زياتو هنري فلمونو کې راڅرگند شوی دی او تر ټولو مشهور فلمونه يې دا دي: عزت، تنکی حج، زهر، ولسمشر ته ليک، اې توپيا، خاک و مرجان، پښېماني، زهر، پرانيستې غېږ، د کونډې زوی، خط سوم، نيلوفر در باران، ارمان او د دې تر څنگ يې ملي راډيو ته په زرگونو داستانونه او ډرامې جوړې کړې دي.

ممنون مقصودي اوسمهال په کابل پوهنتون کې له تېرو ۱۳ کلونو راهيسې پرته له کوم امتياز محصلينو ته د هنر او تمثيل په برخه کې زده کړې ورکوي.

ښاغلی مقصودي وايي، تر ټولو لويه هيله يې دا ده چې د هيواد هغه دښمنان د تمثيل په ژبه خلکو ته ور وپېژني، چې د دې وطن بچيان يې يتيمان کړي او دا وطن يې لوټې لوټې کړی دی.

ښاغلی مقصودي اوسمهال ۵٦ کاله عمر لري او په کابل ښار کې ژوند کوي.

## اقتصاد

**د اسعارو بیې**

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰ |
| € | ۹۴ |
| Rp. | ۴۹۱ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱،۴۰ |
| £ | ۱۱۰ |

**بېړنۍ شمېرې**

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# انګېزه او په بریا کې یې ونډه

ژباړه: صفي الله پادشاه

بریا ته د رسېدو لپاره د هر شخص انګېزه ډېره مهمه ده، خو ډېر کله مو له یوې ټاکلې مودې وروسته انګېزه کم رنګه کېږي او د انګېزې په کمېدو سره مو موخې ته د رسېدو سرعت هم کمېږي؛ ان تر دې چې په بشپړه توګه له خپلې موخې لاس اخلو. له دغې چارې څخه د مخنیوي لپاره باید تل یوه ټاکلې موده وروسته خپله انګېزه تقویه کړو. نو که د خپلې انګېزې د پیاوړي کولو په لټه کې یاست، دغه مقاله تر پایه ولولئ څو پوه شی چې څه ډول کولای شی دې موخې ته ورسېږی.

موږ ټول د انګېزې له کلمې سره اشنا یو. همدا انګېزه ده چې زموږ د حرکت او جریان موندلو لامل کېږي. له شک پرته هغه څوک چې انګېزه ونه لري، ډېر ژر له ماتې سره مخ کېږي. یا په بل عبارت، د غره څوکې ته د ختو انګېزه د دې لامل کېږي څو یو غر ختونکی د غره څوکه فتحه کړي. مالي انګېزه، یا د یوې غوره دندې درلودل او یا بله هره انګېزه د دې لامل کېږي څو یو شخص د خپل ژوند ډېر کلونه پر سختو کارونو، زده کړو او هڅو کولو تېر کړي، تر دې چې خپلې موخې ته ورسېږي. په حقیقت کې انګېزه، د پیل کولو او د هر کار د پای ته رسولو لپاره یو لازم شرط دی. هر څومره مو چې انګېزه لوړه او پیاوړې وي، په همغه اندازه مو د بریالیتوب چانس ډېرېږي.

کله چې یو غر ختونکی غواړي د غره څوکه فتحه کړي، خو د لارې په اوږدو کې ستړی کېږي، دغه مهال همدا د انګېزې ځواک دی چې هغه هڅوي څو خپلې موخې ته ځان ورسوي. په حقیقت کې انګېزه یو ډول انرژي ده چې موخې ته د رسېدو لپاره ورته اړتیا لرو.

خو اوس یوه پوښتنه را ولاړېږي. که چېرې موږ د یوه کار د تر سره کولو لپاره انګېزه ولرو، ایا دغه انګېزه تلپاتې ده او د بیا چارج کولو یا پیاوړي کولو لپاره یې اړتیا شته؟

هوکې، هرو مرو تاسو هم له داسې یوه حالت سره مخ شوي یاست چې په پوره انرژۍ او انګېزې سره مو یو کار پیل کړی دی، خو د لارې په اوږدو کې مو له کاره لاس اخیستی او دوام مو نه دی ورکړی. څه پېښ شول؟ که چېرې انګېزه کولای شي چې موږ له مبدا څخه مقصد ته ورسوي، نو بیا ولې د لارې په منځ کې ودرېدو او له مخکې تګ څخه مو لاس واخیست؟ د دغې پوښتنې ځواب ډېر ساده دی، انرژي مو خلاصه شوه. په حقیقت کې مو خپله انګېزه له لاسه ورکړه.

پیاوړی لیکوال او د بریالیتوب د برخې انګېزه ورکوونکی ویناوال زیګ زیګلر وایي: خلک ډېر کله وایي چې انګېزه دوامداره نه ده، نو که داسې وي، د حمام کولو اغېزې هم تلپاتې نه دي او تاسو ته لارښوونه کېږي څو په دوامداره توګه حمام وکړئ، هغه هم هره ورځ. ډېری خلک فکر کوي چې که همدا اوس د یوه کار د تر سره کولو لپاره انګېزه لري، دغه انګېزه تلپاتې ده او له منځه نه ځي. خو دا فکر سم نه دی او زموږ انګېزه بیا بیا چارج کولو او تقویې کولو ته اړتیا لري. لکه څرنګه چې تاسو اړتیا لری څو هره ورځ او یا په اونۍ کې څو ځله حمام وکړی، په همغه اندازه اړتیا لری څو خپلې انګېزې ته هم پام وکړئ او تقویه یې کړئ. ځکه انګېزه ستاسو د حرکت کولو لپاره د تېلو حیثیت لري او باید هر ځل له یوې ټاکلې مودې وروسته د حرکت کولو او پرمختګ لپاره خپله انګېزه تقویه او چارج کړئ. اوس پوښتنه دا ده چې څه ډول کولای شو خپله انګېزه چارج کړو؟

**لومړی حلالره: هرو مرو یوه یا څو موخې ولرئ.**

انګېزه او موخه باید سره یو ځای وي، څو مو خپل مقصد ته ورسوي. په حقیقت کې کله چې موږ پر دې پوه شو چې باید له کومه ځایه پیل وکړو، له کومو ځایونو تېر شو او کومو ځایونو ته ورسېږو، په ښه توګه کولای شو خپلې انګېزې ته پام وکړو.

هر ځل باید له یوې ټاکلې مودې وروسته خپلې موخې ولولو. کله چې موږ یوه ټاکلې موخه ولرو او پر دې پوه شو چې څه غواړو، په ډېرې اسانۍ سره خپلې موخې ته پام کولای شو. هغه څوک چې ټاکلې موخه ونه لري، بې منزله به یوې خوا او بلې خوا منډې وهي، چې دغه څه په خپله د هغه انګېزه له منځه وړي.

یا په بل عبارت، کله چې د هغو پایلو په هکله فکر کوو چې موخې ته په رسېدو سره یې لاسته راوړو، دغه کار زموږ انګېزه زیاته او پیاوړې کوي. د بېلګې په توګه، کله چې یو ورزشکار د خپلو تمرینونو په ترڅ کې پر دې فکر کوي چې یوه ورځ به یې د سرو زرو مډال ګټلی وي، دغه چاره د هغه انګېزه پیاوړې کوي او ان ځینې وخت یې انګېزه څو برابره هم کېږي.

**دویمه حلالاره: ان د ډېرو کوچنیو بریالیتوبونو لپاره هم خپل ځان وهڅوئ.**

د تل لپاره هم باید هڅونه د بل چا لخوا نه وي. موخه مې دا ده چې تل هم باید په تمه نه شو څو نور خلک موږ وهڅوي، ځینې وخت باید په خپله خپل ځان پر شا وټپوو او ووایو چې افرین، ته کولای شې، کار دې ډېر ښه و. دغه کار د دې لامل کېږي څو د دوام ورکولو لپاره مو انګېزه پیاوړې شي او په ښه توګه کولای شو خپل مسیر ته دوام ورکړو.

کله چې د بریالیتوب پر لور ګام اخلو او خپلې بریا ته نږدې کېږو، او په ورځ کې یو ځل خپل ځان وهڅوو، په دې کار سره په حقیقت کې خپل ځان ته جایزه ورکوو او خپله انګېزه پیاوړې کوو.

دغه ډول هڅونې د چارج په توګه عمل کوي او د مسیر د دوام لپاره زموږ انګېزه چارج کېږي.

په پای کې په یاد ولرئ چې که چېرې خپلې انګېزې ته پام ونه کړی، نه شی کولای چې بریا ته ورسېږی. لکه څرنګه چې ستاسو موټر تېلو ته اړتیا لري، تاسو هم د حرکت کولو او پرمختګ لپاره انګېزې ته اړتیا لری څو وکولای شی چې په حرکت کې واوسی؛ او لکه څرنګه چې ستاسو د موټر د تېلو په خلاصېدو سره باید د هغه ټانکۍ یو ځل بیا ډکه کړی، همدا شان تاسو هم د لا ډېر حرکت او پرمختګ کولو لپاره هم د خپلې انګېزې چارج او تقویې کولو ته اړتیا لری. که مو یو کار په انګېزې سره پیل کړ او د لارې په اوږدو کې پوه شوی چې هېڅ انګېزه نه لری، د دې لپاره دلیل نه شي کېدای چې باید هغه کار پرېږدی او یو بل کار پیل کړی، بلکې پر ځای یې باید یو ځل بیا خپله انګېزه چارج کړئ. موږ ډېرو خپل ډېری کارونه په انګېزې سره پیل کړي دي، خو د لارې په اوږدو کې مو انګېزه له لاسه ورکړې او په خواشینۍ سره مو خپل کار او موخه بې پایلې پرېښې ده. اوس که چېرې وغواړی هغه کارونه او موخې چې بې پایلې مو په نیمه لار کې پرېښې دي، وشمېری؛ فکر کوی څومره به شي؟ دوه کاره، لس کاره او که له دې هم زیات؟ خپلې همدا نا بشپړې شوې موخې او کارونه مو له نورو سره شریک کړئ.

دغه کار د دې لامل کېږي څو پر دې پوه شی چې انګېزه په رښتیا هم د حرکت او پرمختګ کولو لپاره څومره ارزښت لري.

# ایران ته د امریکا تازه خبرداری؛

## بلېنکن: که تهران د تېلو پر بېړیو بریدونو ته دوام ورکړي، له سخت ځواب سره به مخ شي



له اسراییل او برېټانیا وروسته د امریکا متحده ایالتونو هم ایران د عمان په سواحلو کې د اسراییلو پر یوې تېل وړونکې بېړۍ باندې په مرګوني برید تورن کړی او خبرداری یې ورکړی چې دغه برید ته به مناسب ځواب ورکړل شي. دا ګواښ د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن په یوه بیان کې ورکړی دی. هغه ویلي: «د شته معلوماتو په ارزولو سره موږ ډاډه یو، چې ایران دا برید ترسره کړی دی». بلېنکن په دغه بیان کې زیاته کړې، چې د یاد برید لپاره هېڅ توجیه نشته او متحده ایالتونه له خپلو ملګرو سره پر راتلونکو ګامونو غور کوي او هم د سیمې له هېوادونو سره د دغه برید د مناسب ځوابولو لپاره په خبرو بوخت دی.

دا په داسې حال کې ده چې تر بلېنکن مخکې د برېټانیا د بهرنیو چارو وزیر ډومېنک راب هم ویلي، لندن باور لري چې پر دې تېل وړونکې بېړۍ د برید تر شا ایران لاس درلود او دا یو عمدي برید او له نړیوالو قوانینو ښکاره سرغړونه ده. د برېټانیا حکومت د زمري په اوومه د عمان په اوبو کې د اسراییلي تېل وړونکې بېړۍ باندې تر برید وروسته غلی و، خو راب تر دغه برید دوې ورځې وروسته ویلي، دا برید چې پکې د یوه برېټانوي وګړي په ګډون دوه تنه وژل شوي، د ایران بې‌پیلوټه الوتکې کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د تېرې پنجشنبې پر ورځ په یوه برید کې چې اسراییل او د امریکا د پوځ مرکزي قوماندانۍ هغه د ډرون برید بللی، د اسراییل د زودیاک شرکت میرسر کښتۍ زیانمنه شوه او دوه کسان چې یو یې د برېټانیا و او بل یې د رومانیا و، ووژل شول.

راب دا برید بې رحمانه بللی او ویلي یې دي چې برېټانیا له خپلو متحدینو سره مشوره کوي ترڅو د نه منلو وړ دغه برید ته ځواب ووایي. په ورته مهال د اسراییل د پوځ لوی درستیز جنرال اویو کوخاوی له خپل برېټانوي سیال نیک کارټر سره پر دې مسئله خبرې کړې دي. د اسراییل پوځ په یوه بیان کې ویلي، چې دواړو لورو په سیمه کې وروستیو پرمختګونو او دواړو هېوادونو ته متوجه ګواښونو په اړه بحث کړی دی. په خبرپاڼه کې د دغو خبرو په اړه نور جزیات نه دي ورکړل شوي.

د اسراییل لومړي وزیر نفتالي بنت هم د روانې اونۍ د یکشنبې پر ورځ د کابینې په غونډه کې وویل: «زه په پوره ډاډ سره وایم چې ایران په دې کښتۍ باندې برید ترسره کړی دی.»

خو ایران بیا په دې تېل وړونکې کښتۍ باندې په برید کې لاس لرل رد کړي او د اسراییل تورونه یې بې‌ځایه بللي. د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویاند سعید خطیب‌زاده ویلي: «دا څرګندونې په کلکه غندل کېږي. هغه رژیم چې بیت‌المقدس یې نیولی، باید پوه شي چې دا ډول وېراندوینې به یې هېڅ ناروغي جوړه نه کړي.»

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

**چاپخونه:** وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه شنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۲مه | د ۲۰۲۱ د اگسټ درېیمه | ۷۵٦مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۴ | ۳۴ | ۴۰ | ۳۹ | ۳۹ | ۳۳ |
| ۱۹ | ۲۳ | ۲۳ | ۳۰ | ۲۵ | ۲۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۹ | لمر ختل ۰۵:۰۵ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیگر ۰۴:۵۳ | ماښام ۰۶:۵۴ | ماخوستن ۰۸:۳۰

## نړۍ



# ایران ته د امریکا تازه خبرداری؛
# بلینکن: که تهران د تېلو پر بېړیو بریدونو ته دوام ورکړي، له سخت ځواب سره به مخ شي ۵

## وزیر عدلیه: طالبان با شکنجه و قتل اسیران نیروهای دولتی مرتکب جرایم جنگی می‌شوند



وزیر عدلیه می‌گوید که طالبان با شکنجه و قتل اسیران نیروهای دولتی مرتکب جرایم جنگی می‌شوند و به اصول جنگ پایبند نیستند. فضل احمد معنوی می‌افزاید که تمامی جنایت‌های ضد بشری که از سوی جنگجویان طالبان انجام می‌شوند در سطح ملی و جهانی بررسی خواهند شد. این اظهارات آقای معنوی در واکنش به کشته‌شدن عبدالحمید حمیدی، فرمانده لوای اول قول‌اردوی ۲۰۷ ظفر همراه با پنج سرباز دیگر از سوی طالبان اظهار می‌شوند.نوار تصویریی که در شبکه‌های اجتماعی دست به دست می‌شود لحظات بازداشت عبدالحمید حمیدی را نشان می‌دهد. به‌گفتهٔ مقام‌های امنیتی آقای حمیدی با پنج تن از سربازان اسیر طالبان شد و سپس تیرباران گردید. فضل احمد معنوی در این باره گفت: «آنچه را که طالبان انجام می‌دهند، نقض حقوق‌بشری، نقض قوانین بین‌المللی و از جمله جرایم بین‌المللی و جرایم بشری محسوب می‌شود.»

کمیسیون مستقل حقوق‌بشر افغانستان می گوید که تاکنون چندین رویداد را ثبت کرده‌اند که مصداق جنایت‌های جنگی از سوی طالبان اند. محمد ایوب یوسفزی، عضو کمیسیون مستقل حقوق‌بشر اظهار داشت: «بربنیاد اسناد بین‌المللی و اسناد ملی و شرعیت اسلامی تیرباران کردن اسیران یک عمل خلاف قانون و عمل جرمی است.»

طالبان دربارهٔ این سخنان وزیر عدلیه و کمیسیون مستقل حقوق‌بشر چیزی نمی گویند. در یک نوار تصویری که یکی از سخن‌گویان طالبان نیز آن را تأیید کرده، دیده می‌شود دو تن به اتهام رهزنی در یک دادگاه صحرایی تیرباران می‌شوند.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر نږدې دوه سوو میلیونو ته ورسېد

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۹۹ میلیونه او ۲۰۵ زره او ۸٦۱ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله څلور میلیونه او ۲۴۴ زره او ۲۲۴ کسان مړه شوي او نږدې ۱۸۰ میلیونه تنه ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۵ میلیونه او ۷۷۰ زره او ۸۸۸ ته رسېدلې او ٦۲۹ زره او ۳۸۴ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۳۱ میلیونه او ۷۰۳ زره او ۹۳۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۹ میلیونه او ۹۳۸ زره او ۳۵۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د شپږ میلیونه او ۳۱۲ زره او ۱۸۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د شپږ میلیونه او ۱۴٦ زره او ٦۱۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

برېتانیا، ترکیه، ارجنټاین، کولمبیا او هسپانیا بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: په ترکیه کې د سختې اورلگېدنې شپږ کسان مړه کړي او زرگونو نورو خپل کورونه پرېښي



د راپورونو له مخې، په ترکیه کې د ځنگلي سیمو د اورلگېدنې په دوام د مړو شمېر شپږ تنو ته لوړ شوی او زرگونه کسان د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي دي.

رویټرز خبري اژانس راپور ورکړی، چې اور وژونکي لاهم په ساحلي ښارونو مانوگات او مارماریس کې د اور د کابو کولو لپاره کار کوي. په ورته مهال د ترکیې د ځنگلونو وزیر بیکر پاکدیمیرلي په وینا، په دې سیمو کې اورونه لاهم د سختې تودوخې او باد له امله روان دي.

د ترکیې د ځنگلونو وزارت اعلان کړی، چې په تېرو څو ورځو کې د ۱۱۲ سیمو څخه چې اورونه پکې بل دي، د شاوخوا ۱۰۷ سیمو اورونه کنټرول شوي دي. په ترکیه کې دغو پراخ اورونو چې څو ورځې دمخه د دغه هېواد په سیاحتي ښارونو او ځنگلي سیمو؛ لکه انتالیا، بودوروم، مارماریس او مرسین کې پیل شوي، په زرگونه سیلانیان د دې سیمو د هوټلونو او تفریح ځایونو پرېښودو ته اړ کړي دي. د دغه هېواد سیمه ییزو رسنیو راپور ورکړی چې د ترکیې د سمندري غاړو ساتونکې بېړیو او د ځینو خصوصي بېړیو په مرسته سیلانیان خوندي ځایونو ته وړل کېږي.

Citizens Organization for Advocacy and Resilience
مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی
CoAR 1989

اعلان داوطلبی

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی (CoAR) به کمک مالی مؤسسه بین المللی NCA تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (WASH) در ولایت کابل و خوست به تعداد پنج حلقه چاه آب اشامیدنی حفر نماید. آنعده شرکت‌های ساختمانی در زمینه که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (August 03, 2021) الی (August 12,2021) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد:

خانه نمبر ۴۸، از طرف پل سرخ نارسیده به گولایی پل وحدت، ناحیه سوم، شهر کابل.
procurement@coar.org.af

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank